# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


له پیشرو خپروني څخه – ۳۸ ګڼه

۲٦ می ۲۰۱۱

## لیبیا، د امپریالیستانو د تیري په محراق کې

له ډیرې مودې راهیسې لیبیا د معمر قذافی په شان یو زورواک لخوا رهبري کیږي او همدا لامل دی چې د دې هیواد ولسونه نه آزادي لري او نه هم له لومړني انساني حقوقو څخه برخمن دي. وروسته له هغې چې په عربي نړۍ کې، تونسي وګړو بی له «نړیوالې» مرستې وکړای شول د کارګرانو په مټ، زورواکان د واک له ګدۍ راوپریوځي او ان له هیواد یې فراري کړي، منځنې ختیځ او د افریقا ځینې برخې د ولسونو د پاڅونونو په اور کې یو نوي پړاوته دننه شول، چې د دې پاڅون سپرغۍ لیبیا ته هم ورسیدلی، خو له بده مرغه چې «نړیوالې ټولنې» او په ځانګړې توګه ناټو د ولس پاڅون یرغمل کړل او په لیبیا یې د ولسونو څخه د دفاع په نامه تیری پیل کړ.

د معمر قذافي دولت چې په ۱۹۶۹ کال کې د یوې پوځي کودتا په ترڅ کې رامنځته شو، د خپل ۴۲ کلن حکومت په موده کې هڅه کړې چې د زورواکۍ او د پیاوړې پوځي دستګاه په ملتیا سره ولسونه وځپي او په همدې موخه یې سل زره ځانګړې ملیشې وروزلې چې داړتیا په وخت کې وکړای شي د ولسونو پاڅونونه وځپي، خو مګر د لیبیا ولس چې د هر بل هیواد د پرګنو په شان حق لري، آزاد او دموکراتیک ژوند ولري، بی له ډاره د دې حکومت په وړاندې راپاڅیدل، خو امپریالیستان چې د امپریالیستي کړنلارې له مخې د ریښتوني ولسي پاڅونونو مخالف دي، په دوکه مارۍ سره یې د پاڅون واګې خپل لاسپوڅو ته ورکړ، څه چې ولسونه تري تر شا شول.

دمعمر قذافی ځانګړی ګارډ چې د فداییانو په نوم یادیږي او شمیر نژدې ۲۵۰۰ کسانو ته رسیږي، له هغو کسانو څخه دی چې هر ډول قربانی ته تیار او آماده دي. د نظامی پلوه دمعمرو قذافی پوځ په مدرنو او پرمختللو وسایلو سمبال دی چې په کې بیلابیل ډول روسي پرمختللي ټانکونه هم شامل دي، همدا ډول دا پوځ پرمختللي فرانسوی وسلې هم لري.

سره له دې چې د لیبیا خلك په دې ښه پوهیږي چې معمر قذافي د دوی حقوق ځپلي دي، خو په هیڅ ډول دی ته راضي نه دي چې د بهرني هیوادونو د مرییتوب کړی په غاړه کې واچوي. د لیبیا ولس هغه جنایتونه چې بهرنیانو په عراق او افغانستان کې د دموکراسی، انتخاباتو، بشري حقوقو او د مدني ټولنو د دودولو لپاره کړي دي، په ښه توګه لیدلي او دې ته رسیدلي دي چې استعمار له استبداد څخه ډیر کرغیرن دی.

خو نړیوالي امپراتورۍ د دې لپاره چې د خپل پوځي سازمان (ناټو) لپاره نوې دنده ومومي او وروسته له هغې چې ناټو له افغانستان څخه ووځي دا ترون سره یو ځای وساتي او په ورته وخت کې خپلې منګولې په عربي نړۍ کې لا ښخې کړې، په بېرحمانه ډول پر دې هیواد هوایي برید وکړ چې د فیډل کاسټرو په وینا سارې یې په تاریخ کې تکرار شوي نه و.

خو که چېرې معمر قذافي، سره له دې چې د یو ارتجاعي دولت واکمن دی، د خپل هیواد د استقلال لپاره ژمن پاتې شي او لکه نورو زورواکو په شان د بهرنیو د تیري په وړاندې په ګونډو نشي خلك به دمګړۍ د استبداد سره د مبارزې په ځاي اصلي تضاد ته ورمخه او امپریالیستان به په ګونډو کړي او تیري کوونکي به د دې ټاټوبي څخه یوازې یو موټې سره خاوره له ځان سره ویسي.